# ډارونکي سېلاب



لیکوال: داکتر مهندس حشمت الله اثمر

پیخلیک: لیندی / کال ۱۴۰۴ لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** ډارونکی سېلاب

**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - لیندۍ / کال ۱۴۰۴

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

برېښنالیک: atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښتۍ.................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ....................................................... ۲**
**لیکي پوهه:................................................................... ۳**
**لړلیک .......................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید).......................................................... ٥**
**د یادښتونو له پاره:................................................................ ۸**
**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ............................................ ۹**
**د چاپ شویو کتابونو لېست....................................................... ٦٦**
**د کار لاندې کتابونو لېست ...................................................... ۷۰**
**د امکان او وخت په صورت کې.................................................... ۷۱**
**د پخښتۍ څټ ................................................................... ۷۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات یو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه د لوګر ولایت په خوښۍ (خوشي) ولسوالۍ کې تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډه (شریکه) کړم. زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونې:**

- دا کتاب د دې له پاره ډارونکی نوم پرې ایښودل شوی دی، چې مسلمانان باید د خدای نه وډار شي، د هغه عبادت وکړي او هغه څیز(شي) نه چې منع شوي دي لکه:

دروغ ویل، زنا کول، رشوت اخیستل، د یتیم مال خوړل، حرامه ګټه، شراب څښل، دخانیاتو استعمالول، کوکنار کرل، قاچاق کول، انسان تښتول، انسان وژنه، قمار وهل، بې حجابه ګرځېدل، لمونځ نه کول او داسې نور مثالونو دی چې باید د هغه نه ډډه وکړي.

په نورو ملکونو کې هم حکومتونه کوښښ کوي چې خلک وډار کړي تر څو په ټولنې کې نظم او نظام حاکم او انسان تېرې ونه کړي.
د نمونې (مثال) په توګه کولای شو د قانون نه نوم واخلو.

کېدای شي په قانون کې د هرې سرغړونې په هکله ځانګړې جزا لیکل شوی او پر کسانو تطبیق شي، تر څو د نور د پند او عبرت سبب وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

..........................................................

- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت
ډاکتر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یادښتونو له پاره:

۱- ........................................................................................

۲- ........................................................................................

۳- ........................................................................................

۴- ........................................................................................

۵- ........................................................................................

۶- ........................................................................................

۷- ........................................................................................

۸- ........................................................................................

۹- ........................................................................................

۱۰- ......................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

د اوړي ورځې وې، اوا (هوا) ډېره توده وه او داسې ګمان کېده چې د ځلوېښتو درجو نه پورته وې، دا اوا(هوا) د څو ورځو له پاره په یوه شان وه، د سړوبې (یخېدو) کوم لامل نه په سترګو کېده، تګ او راتګ او یا د ورځې له خوا ګرځېدنه، ستونزمنه وه.

هر چاه به دوعا کوه چې باران دې و ورېږی چې اوا (هوا) سړه شي، هیچا (یوه کس) به د خیر دوعا نه کوه، ټول د خپل د ځانونو په غمونو کې وو، دا یې سوچ نه کوه چې خدای (ج) په هر څه پوی دی، او ټول خیر او شر د هغه له خوا (طرفه) دی.

هر څه چې و غواړي کوي په اوړي کې ژمی او په ژمي کې اوړی راوستی شي، انسانان چې اشرف مخلوقات دي د خپل په خیر او شر نه پوهیږي.

ګرمي په یوه سان وه او کوم بدلون یې ونه کړ، څو ورځې تېرې شوې او په آسمان کې څه ورېځې ځرګندې شوې، کله به ډېرې او کله به لږې شوې.

خو پر ګرمۍ یې کوم تاثیر و نکړ، وریځې به ورځ تر بلې ډېرېدې او په آسمان کې به ګرځېدي، خلکو به هم ورته خوشحالۍ کوي او ویل:

خدای دې وکړي چې په مزه باران و ورېږي او اوا(هوا) سړه کړي.

ورځ بله هم تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

.........................................................

وریځې ډېرې او سره یوه ځای شوې، په وریځو کې له ورایه قهر او غصه ښکارېده او نرۍ وریځې د ورښت په خړو وریځو وا وښتې او پر بارانو نو یې پیل کړ.

بارانونه د هېواد په ګوډ ګوډ کې پیل او خلکو پر خوشحالیو پیل کړ.

تقوا تقوا اکا چې د خوښۍ ولسوالۍ اوسېدونکی او ډېر خواریکښ سړی وو، هغه په کلي کې کوشنۍ هټۍ او ټکټر(تراکتور) درلود، په هغه یې کار کوه او کله نا کله به یې نږدې غرو ته، ته او الته به یې بوټې شکول، لرګي ماتول او کور ته به یې وړل.

پر لرګو به یې ماشومانو پخلی، په تناره کې به یې ډوډۍ پخوې او په ژمې کې به یې پر هغو کوټې هم تودوې.

د هجري شمسي ۱۴۰۱ کال، زمري د میاشتې ۲۹ نهه ویشتمه نېټه وه.

تقوا تقوا اکا سهار وختي له خوبه پاڅېد او جومات ته په جمع لمونځ ادا کولو له پاره نیت وکړ.

لمړی یې کوزه واخیسته او له اوبو یې ډکه کړه، اودس یې وکړ.

بیا یې د کورنۍ نور غړي د لمانځه د ادا کولو له پاره راویښ کړل.

خپله یې د کلا دروازې ته لاړ.

دروازه یې خلاصه او د باندې شو.

بیا دروازه یې د باندې خوا وتړه او آسمان ته یې وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

...........................................................

اسمان په ورېځو پوښل شوی و، خړ رنګ یې درلود او داسې ښکارېده چې ورېځې ډېرې په غصه دي.

هغه سر ټیټ واچاوه او د جومات خوا ته روان شو.

لمونځ یې په جمع ادا او بېرته د چای څښلو له پاره کور ته روان شو.

باران لږ، لږ او دانه دانه په ورېدو پیل کړ.

د هغه په زړه کې د خسو او بوټو په هکله څه وګرځېده.

هغه د خپلې ښځې نه، پوښتنه وکړه:

خس او بوټي لرو که نه؟

زما زړه هسې تنګ دی.

کوم بل کار هم نه شته.

ښځې یې و ویل:

خس خو ډېر لږ پاتې دي.

ښه به وي چې زه تناره کوټې ته لاړه او و ګورم.

ته دلته کېنه!

زه به چای هم راوړم.

هغه پر توشکې کېناست او بالښت یې تر څټ (شا) کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................

د هغه ښځه د تناره کوټې ته لاړه او خس يې وليدل چې ډېر لږ او يواځې د يوې ورځې له پاره بسون (بس) کوي.

ژر، ژر يې چاى دم او کوټې ته يې راوړ.

بيا يې خپل مېړه ته و ويل:

خس خو ډېر لږ او د يوې ورځې به وشي.

تقوا تقوا اکا و ويل:

د اسمان وريځې خو ډېرې په غصه ښکاري، ښه به وې چې غره ته لاړ او بوټې و وهم.

ښځې يې و ويل:

سمه ده!

اوس باران دانه، دانه وريږي، کېداى شي بله ورځ ډېر او ستا تګ به نا شونی شي.

تقوا تقوا اکا و ويل:

ته رېښتيا وايې.

لمړى به چاى و څښم بيا به غره ته لاړ شم.

تقوا تقوا اکا خپل چاى ژر، ژر و څښل.

د بوټو کيندلو وسايل يې راټول په يوې کڅوړې کې يې کېښودل او د کور نه د باندې شو.

بيا يې اسمان ته و کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړې ورېځې په هماغه شان په قهر او غصې کې ډوبې وې.

باران ورو، ورو ورېده.

د ونو سپېرې خاورې، دوړې يې د پاڼو نه پاکوې او ځمکې ته به يې غورځوې.

د ونو پاڼې ځلېدې او پاکې ښکارېدې.

هغه کڅوړه شا ته واچوه او مخ پر غره يې روان شو.

د هغه او د نورو خلکو کورونه په دې سيمې کې له ځمکې نه لږ په اوچته سيمو کې پراته او د خوړ نه لرې (بچ) وو.

هغه له ځانه سره د کرسي آيت ولوست او پر تګ يې پيل کړ.

ورو، ورو د غره لمنه کې روان و.

کله به يې اسمان ته کتې او کله به يې ځمکو، باڼډو او کليو ته کتل.

هغه ورو ورو غره ته وخوت او ځان يې د بوټو ځنګله ته ورساوه.

خپله کڅوله يې تر ځټ (شا) خلاصه او وسايل يې پر خمکه و غوړول.

بيا يې د بوټو په وهنې پيل کړ.

باران لږ تېز شو او وړې دانې يې پر غټو واوښتې.

هغه بيا آسمان ته و کتل او له ځانه سره يې و ويل:

تر ماسپښينه چې بوټې و وهم، د يوې اونۍ خس به شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

..........................................................

بیا به هغه کور ته یوسم.

اوس خو یوه پنډ هم نه پوره کوي.

غرمه شوه.

یوه بجه او بیا دوې بجې شوې.

باران خورا تېز شو.

تقوا تقوا اکا هک پک پاتې شو.

هغه داسې باران د خپل ټول عمر کې نه و لیدلی.

هغه د بوټو وهنې کار پرېښود.

کوښښ یې وکړ تر څو تر کومې ګڼې ونې او یا هم د کوم کمره لاندې پټ شي.

هغه دېخوا اخوا وکتل.

کوم مناسب ځای یې ونه موند.

مجبوره شو چې تر ګڼې ونې لاندې ودرېږی تر څو باران په ټپه شي (ودرېږي).

هغه به کله اسمان او کله به یې لاندې سیمې ته کتل.

په دې وخت کې هغه د سېلاب غړمبهاری واورېد.

ژر یې اخوا دېخوا د غره ښاخو ته وکتل.

بیا یې خپلې ګړۍ ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

...........................................................

ګوري چې د ماسپښین دوې بجې دي.

په دې وخت کې یې په نا څاپي توګه وچ ښاخ ته وکتل.

سترګې یې په سېلاب ولګېدې کوم چې د لته کورې خوا نه پیل شو.

د سېلاب بل ګذر د الکډاو او جانداد کلا نه بره اوبل د ارمک سیمې (منطقې) نه راورسېد او درېواړه د بغلو په بازار کې سره یوه ځای شو.

اوبه یې خورا ډېرې او شدت یې هم له ورایه، ښکارېده.

داسې ښکارېده چې لویې، لوړې د چنارو ونې پر ځمکه څملوې او له ځانه سره یې وړي.

بیا د غوړانو کلا خوا نه هم بل سېلاب ورسېد، د نورو اوبو سره یوه ځای او پر ورانۍ یې پیل کړ.

لمړی یې د ارمک په سر(خوله) کې د سخي جان هټۍ لړنګه او هر څه یې له ځانه سره یوځای کړل.

خلکو هرې خوا منډې، د کورونو په وتلو پیل او جګو سیمو ته یې مخه وکړه.

د تقوا تقوا اکا ټکټر (تراکتور) له ځمکې اوچت شو او د هغه د اولادونو ورته پام شو.

هغوي په منډو سره رسې واخیسته او ټکټر یې د یوه غټ چنار ونې سره وتاړه او خپل ځانونه یې لوړو غونډیو ته ورسول.

اوبو د چنار بیخ وسپاړه او ټکټر یې هم د ځان سره مل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

...........................................................

اخوا يې په سره کمره کې د وزير خان سراچه ډوله موټر چې سپين رنګ يې درلود هم له ځانه سره مل کړ.

لږ ځنډ وروسته يې په وچ ښاخ کې د سيدا خان اخند خيل ۱۱ اوزي هم له ځانه سره ګډې او وېوړې.



**په خوښی ولسوالۍ کې د ډارونکی سېلاب يوه انځور**



**په خوښی ولسوالۍ کې د ډارونکی سېلاب يوه انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډارونکی سېلاب

………………………………...................



**په خوږنۍ ولسوالي کې د ډارونکی سېلاب یوه انځور**



**په خوږنۍ ولسوالي کې د ډارونکی سېلاب یوه انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

...............................................................



په خوږنۍ ولسوالۍ کې د ډارونکی سېلاب یوه انځور



په خوږنۍ ولسوالۍ کې د ډارونکی سېلاب یوه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

..........................................................



**په خوږنۍ ولسوالي کې د ډارونکی سېلاب يوه انځور**

دا خونړی سېلاب نور هم په غصه شو او د اوبو اندازه يې نوره هم ډېره شوه او نور موټر لکه د حاجي اکبر خان سپين رنګې سراچه او د حاجي شينګي سور رنګه سراچه ډوله موټر يې له ځانه سره مل کړل او بيا يې د بغړو بازار کې د نسيم ګل سراچه موټر له ځمکې اوچت او مخ پر ولسوالۍ يې کش کړ، مګر د هغه موټر په ونو کې بند پاتې شو.

سېلاب لږ ځنډ وروسته ولسوالۍ ټيټو سيمو او مرکز ته يې مخه وکړه ، په ډېرې چټکۍ سره يې ځان و رساوه، پر کليو، باندو، بڼونو او بازارونو يې چاپه واچوه او خلک يې د شپې په تيارې کې را ايسار او د هغوی نه يې غچ واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

.....................................................................

تر پنځوس (۵۰) ډېر کسان يې و وژل او تر اتيا (۸۰) نور يې ټپيان کړل.
همدا راز يې تر دوو زرو ډېر څاروي او په زر هاو جريبه ځمکه هم ويجاړه کړه.

دا سېلاب درې ګړی (ساعته) دوام و موند، په ټيټو سيمو کې يې تر ۹۰ سلنه ډېرې ونې نسکورې او له ځانه سره يې وېوړې.

هټۍ او کورونه يې ويجاړ او د کورونو خوراکي توکي، کالي، لوښي، اسباب، کورني الوتونکي، مېږی، اوری، اوزې اوغواګانې يې له ځانه سره ګډې، بيا يې تر خټو لاندې او د تل له پاره يې د هغوی غږ.ونه ودرول.

ماښام نا وخته و.
د سېلاب په درېدو سره سم خلکو بېرته خپلو کورنو او کليو ته مخه وکړه او هر چا زيار باسه چې ژر خپلو کورونو ته ځان ورسوي او وګوري چې څه له سېلاب څخه پاتې دي.
د جګو سيمو او غونډيو کورونو ته يې زيان لږ رسولی و مګر د نسبتآ ټيټو سيمو ته يې زيان ډير، کوټې يې نړولې او د کلا ګانو دېوالونه يې، نړولي وو.
هر چا به کوښش کوه چې د خپل ګانو او پيسو ځايونه ولټوي تر څو يې و مومي.
مګر دې سېلاب، هر څه يې ترې وړی او تر خټو لاندې کړی ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

.........................................................

خلک سرګردانه دېخوا او اخوا په کليو کې ګرځېدل، ډېرو خلکو به خپل کورونه هم نه پېژندل.

تقوا اکا هم خپل بوټي الته پرېښودل او د نورو خلکو په شان بېرته کلی ته ستون شو.

د هغه هټي يې ورانه کړې او په کور کې يې د سېلاب خړې اوبه ډندې وې.

ډېری کالي يې سېلاب تر خټو لاندې او د کار نه يې باسلي (وېستلي) وو.

هغه هم ډېر خواشينی شوی و، تر سهاره خلک د بې ځايې له کبله خوب ونه کړ او د سهار د لمانځه ادا کولو نه وروسته، بيا خلکو د خپلو مالونو پسې سم شوو او د سېلاب تللي لارې پسې روان او خدای خدای يې کوه چې خپل د مالونه نه څه ومومي.

تقوا اکا هم لمړی د خپل ټکټر (تراکتور) سوچ شو و يې غوښتل چې هغه ومومي نو ځکه يې هرې خوا کتل.

څو ګړی هغه سرګردانه وګرځېد، بيا يې د ټکټر (تراکتور) حصه (برخه) د حاجيانو، ماشين (انجن) او يوه ټاير يې د مامد (محمد) شاه خيل په کلي کې وموند.

هغه ته چا د تيلو ټانکۍ پته ورکړه چې د دتنګي ګوزدم کې ده ، هغه په منډو الته ځان ورساوه ويې ليدل چط د ټانکۍ تيل د يوې غټې ډبرې خوا ته توې شوي، مګر د ټانکۍ اثر يې و نه موند.

د دې پېښې په هکله ټول افغانان پوي او نړې هم پرې خبره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

........................................................

مرستندویو موسسو، د ولسوالی اوسېدونکو،ملي سوداګرو، او د امارت اړوندو چارواکو سیمې ته ودانګل.

مړې یې تر خاورو لاندې ښخ اوټپیان یې روغتیایي کلینیکونو او روغتونو ته و رسول او درملنه یې پیل کړه.

هر چا (کس) د خپل توان په اندازه د سېلاب ځپلو خلکو سره مرستې پیل کړې.

چا به خیمې او چا به پخې وچې ډوډۍ او بې خونده وریجې (پلو)، خلکو ته ورکوې.

ورو، ورو اوبه وچې او خلکو په خپلو ړنګ شویو ودانیو کې کار پیل کړ او کورونه یې په ډېرو ستونز سره څه نا څه جوړ او د اوسېدو له پاره یې تیار کړل.

سېلاب ځپلو خلکو به هرې خوا عریضې کوی او د مرستو، سترګو په لارې وو.

تقوا اکا هم د نورو خلکو په شان د اوسېدو له پاره یوه خیمه تر لاسه کړه او د پخو وچو ډوډیو او پخو وریجو(پلو) نه به هم په خپله او هم د کورنۍ نورو غړو د پاره ګټه اخیسته او پر هغه به یې ژوند تېراوه.

بیا هغه د نورو مرستو لاس ته راوړلو د پاره یوه عریضه ولسوالۍ ته وکړه.

خپله عریضه یې د نورو سېلاب ځپلو خلکو په شان د ولسوالۍ، ولسوال ته وړاندې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوال د ده په شان په سل هاو عریضې غونډې کړې او د خیریه موسسو په تمه وه.

ولسوال په لمړی ځل یې د هغه عریضه وا نه خیسته.

بیا تقوا اکا د واسطې په توګه ځه مشران یې الته ولېږل.

بیا ولسوال د هغه عریضه واخیسته او د تصدیق له پاره یې د کلیو مشرانو او شورا مشر ته راجع، تر څو هغوی یې تصدیق کړي، چې په رښتیا سره هغه سېلاب ځپلی دی او که نه؟

تقوا اکا عریضه واخیسته او کلی ته روان شو.

وخت نا وخته او ماښام و.

شپه یې په کور کې وکړه او سهار وختي له خوبه پاڅېد.

اودس یې وکړ او بیا د لمانځه له پاره جومات ته روان شو.

لمړی یې لمونځ وکړ او وروسته یې د کلیو شورا یوه مشر وموند او هغه ته یې د خپلې عریضې په هکله و ویل:

ما د مرستو د تر لاسه کولو په هکله ولسوال ته عریضه وکړه.

هغه په لمړي ځل عریضه و نه منه.

بیا مې ځه سپین ږیري واسطه کړل.

وروسته یې زما عریضه د کلیو او مشرانو شورا ته ولیکه.

اوس دا دی، تاسو هم د شورا یوه غړی یاست.

دلته ما ته د نقصان رسېدو اعتراف (تصدیق) وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به ډېر خوشحاله او تا ته دې خدای اجر درکړي.

هغه عریضه وکته.

بیا یې هغه ته و ویل:

دلته یې شورا لیکلې ده.

زه په یواځې ځان نه شم کولای چې ستا عریضه تصدیق کړم.

تقوا اکا و ویل:

اوس به څه کوم؟

هغه و ویل:

څو ورځې وروسته مونږ په ولسوالۍ کې شورا لرو.

ته خپله عریضه الته وړاندې تر څو د شورا مشر یې وګوري، بیا به په ګډه فیصله وکړو.

تقوا اکا و پوښتل:

شورا به کومه ورځ وي؟

هغه و ویل:

نه پوهیږم.

د شورا مشر حتماً زنګ وهي.

ورځې تېرېدې او د تقوا اکا صبر هم لږېده.

هر وخت به یې د شورا غړی لیده، تر هغه به یې پوښتنې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارونکی سېلاب

.........................................................

میاشت تېره او د شورا  د جوړېدو غونډې، څرک و نه لګېد.

تقوا اکا یوه ورځ ډېر خواشینی د جومات دېوال څنګ (شا) ته ناست او سیوری ته یې ډډه وهلې وه.

هغه په سوچونو کې ډوب و.

کله به یې سر راپورته، اخوا دېخوا به یې وکتل.

څوک، نه ښکارېده.

اوا (هوا) هم د سېلاب د ورځې په شان توده وه.

بیا به یې سر په زنګنو کېښود او په سوچونو(فکرونو) به یې پیل کړ.

کله به یې و ویل:

دا څنګه هېواد دی؟

واسطه به څه وخت له منځه لاړه شي.

زه څوک هم نه پېژنم.

خدای دې خپل رحم، وکړي.

په سوچونو، سوچونو کې خوب وېوړ.

سر یې هماغسې په زنګنو ایښی و.

څه موده تېره شوه.

د پښو په ډبه هارو له خوبه، پاڅېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې کتل چې تر څنګ یې هماغه د شورا غړی تېر شو.

ژر له ځایه پاڅېد.

پر هغه پسې یې منډه کړه.

ځان یې هغه ته ورساوه.

لمړی یې هغه ته سلام واچوه.

هغه هم د تقوا اکا سلام ته وعلیکم و ویل:

هغه، ودرید.

بیا یې د تقوا اکا سره روغبړ وکړ.

تقوا اکا ترې پوښتنه وکړه:

څه وخت به شورا جوړه شي؟

هغه و ویل:

که خدای کول سبا، به شورا وي.

تقوا اکا و ویل:

شورا به چېرته وې.

د شورا غړي و ویل:

شورا به د ولسوالۍ په انګړ کې وي.

بیا تقوا اکا و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا به په څو بجو وي؟

د شورا غړي و ويل:

سهار د لس بجو په شاو خوا کې به وي.

تقوا اکا و ويل:

مننه کوم.

اوس راځه چې کور ته لاړ او تريخ چاى و څښو**!**

د شورا غړي و ويل:

نه**!**

مننه کوم.

زه بايد بل کلي ته لاړ شم کوم چې د خلکو په وينا، د هغه کلي دوې ښځې يې سېلاب وړې او تر اوسه يې څرک نه معلومېږي.

تقوا اکا ومنه.

د شورا غړي د تقوا اکا نه خداى پاماني واخيسته او روان شو.

تقوا اکا هم خپل ځاى ته ستون او د مازيګر لمونځ ادا کولو نه وروسته خپل کور ته روان شو.

هغه د پېښې شوي شورا غړي کيسه کور کې وکړه.

د کورنۍ ټولو غړو هغه ته دوعا وکړه.

تقوا اکا خوشحاله ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحالۍ نه یې د شپې خوب هم و نه کړ.

سهار شو.

ګړۍ ته یې وکتل.

د سهار د لمونځ د آذان و خت نږدې و.

هغه د خپل ځای نه پاڅېد او کوزه یې د اوبو نه ډکه بیا یې اودس وکړ.

په دې وخت کې یې د سهار د لمونځ آذان واورېد.

هغه خپل د کورنۍ نورغړي، لمانځه د پاره، له خوبه ویښ کړل.

بیا په خپله له کوره و وت.

هغه جومات ته روان او وروسته د جومات ودانۍ ته ننوت.

د جومات په یوې څنډې کې کښېناست او پر عبادت یې پیل کړ.

د لمانځه د ادا کولو نه وروسته، بېرته کورته ستون شو.

چای یې وڅښه.

بیا یې خپل ټیلفون کې راډیو ته غوږ و نیو.

څه وخت تېر او اته نیمې بجې شوې.

هغه د ټیلفون رادیو مړه کړه.

خپل کالي یې بدل کړل.

بیا یې د کورنۍ غړو نه خدای پاماني واخیسته او د کوره و وت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړۍ وروسته ولسوالۍ ته ورسېد او د تلاشۍ نه وروسته، انګړ ته ننوت.

اخوا دېخوا يې وکتل.

بيا يې يوې غونډې کسانو ته نږدې او د خپل شورا د غړو په لټه شو.

څو دکيکې (دقيقې) وروسته وتوانيد چې هماغه د شورا غړی پيدا کړي.

لمړی يې د هغه سره روغبړ وکړ او هغه ته يې د عريضې په هکله و ويل:

کولای شم چې اوس تاته عريضه درکړم؟

هغه و ويل:

لږ صبر وکړه.

اوس به د شورا مشر راورسېږي، بيا به عريضه هغه ته وړاندې او زه به له تا سره مرسته وکړم.

تقوا اکا خوشحاله شو.

او ځان يې يوې ونې ته نږدې کړ.

خپل څادر يې تر ونې لاندې اوار کړ.

بيا يې اخوا دېخوا وکتل.

او پر څادر کښېناست.

څو دکيکې (دقيقې) ورسته ځان يې لږ بېرته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې ونې ته تکيه و وهه.

مخ يې د شوراغړو ته کوم چې په چمن کې د ګلانو تر خوا ناست او غوږې يې کوې، وګرځاوه.

څه وخت تېر شو.

د شورا مشر ورسېد.

خلک د خپلو ځايونو نه پاڅېدل.

خلکو څو ګامه مخې ته لاړل.

د شورا مشر د ټولو غړو سره روغبړ وکړ.

بيا د شورا غړی، تقوا اکا ته نږدې شو.

هغه و ويل:

د شورا مشر ورسېد.

راځه!

خپله عريضه هغه ته وړاندې کړه.

تقوا اکا ډېر خوشحاله شو.

له ځايه پاڅېد او خپل څادر يې و څانډه.

بيا د شورا غړي سره يوځای د شورا مشر ته لاړل.

هغه د شورا مشره سره روغبړ وکړ.

بيا تقوا اکا خپله عريضه، هغه ته وړاندې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شورا مشر د هغه عریضه په ځیر سره وکته او ویې ویل:

سېلاب د ولسوالۍ ټولو خلکو ته یې زیان (نقصان) رسولی دی.

مونږ کوښښ کو چې مستحقو خلکو (کسانو) ته مرستې ورسو.

تقوا اکا و ویل:

زه هم مستحق یم.

له یوې خوا یې زما هټۍ او له بلې خوا یې زما ټکټر (تراکتور) سېلاب وړی دی.

تر دې ځنګ یې د کور مالونه هم په ختو لېت پېت کړی او د کار نه یې اېستلي دي.

د شورا مشر و ویل:

د هرې خبرې له پاره شواهد، اسناد اوسپیناوی په کار دی.

مونږ په خپل سر نه شو کولای چې د هرچا عریضو، پخلی وکړو.

بیا د شورا غړي کوم چې تقوا اکا پېژانده، د شورا مشر ته نږدې او هغه ته یې و ویل:

تقوا اکا ډېر دیندراه او ښه سړی دی.

هغه ریښتیا وایي.

بیا د شورا مشر و ویل:

د دې کار له پاره اړینه ده چې تقوا اکا د خپل کلي مشر او د ملا امام تصدیک (تصدیق) واخلی او بیا دې عریضه ما ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به د هغه عریضه ولسوال صیب ته وړاندې کړم.

تقوا اکا ډېر خواشینی شو.

خپله عریضه یې بېرته واخیسته.

هغه د شورا غړو او مشر نه خدا پاماني واخیسته او د ولسوالۍ انګړ نه د باندې شو.

اوا (هوا) توده وه.

هغه خپل څادر پر سر واچوه او کلي خوا ته روان شو.

هغه ورو مزل کوه او غوښتل یې چې کوم بل کس سره و وینې تر څو د هغه نه لاربښونه واخلي.

مګر د هغه په مخ څوک رانه غی.

څکه!

د یوی خواه اوا(هوا) توده او له بلې خوا غرمه نږدې وه.

په داسې وخت کې هر څوک په خپلو کورونو کې اوسي، تر څو ناروغه نه شي.

هسې هم خلک د سېلاب نه ډارشوي وو.

څنډ وروسته هغه خپل کور ته ورسېد.

دروازه یې خلاصه او کور ته د ننه شو.

کوچنی زوی یې چې په غولي کې یې لوبې کوي، له څایه پاڅېد او خپل پلار، مخې ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی یې هغه ته سلام ورکړ.

تقوا اکا هم هغه سلام ته وعلیکم و ویل:

بیا وړاندې لاړ او ځان یې څپرې ته نږدې کړ.

د کورنۍ نور غړي هم د ځای نه پاڅېدل او هغه ته یې ستړی مه شې و ویل.

هغه ټولو ته و ویل:

خیر یوسئ!

بیا ښځې یې، ترې پوښتنه وکړه.

عریضه څنګه شوه؟

هغه و ویل:

د عریضې کار نور هم ستوزمن (جنجالي) شو.

ښځې یې و پوښتل:

د شورا مشرعریضه و نه منه؟

هغه و ویل:

ویې منه.

بیا هغې و ویل:

نو، څرنګه ستونزمنه شوه.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه يې  د کلي مشر او د جومات ملا امام ته راجع تر څو زما د عريضې په هکله تصديق او پخلی وکړي.

بيا تقوا اکا عريضه له جبه و ويسته.

هغه يې خلاصه او د کورنی، نورو غړو ته يې و ښوده.

بيا يې بېرته کاته (قاته) او د بغل په جب کې يې کېښوده.

په دې وخت کې ډوډۍ تياره او زوی يې کوزه او چلمچي راوړ.

تقوا اکا خپل لاسونه پرېمنځل او الک اوبه يې نورو ته وړاندې کړې.

بيا دستر خوان اوار شو.

د موسسو ډوډۍ پر دسترخوان کېښودل شوې.

تقوا اکا بسم الله او نورو ته يې و ويل:

پيل کړئ.

ټولو ډوډۍ وخوړه او ښځې يې چای دم او راوړ.

چای يې په خوند سره و څښه.

بيا يې ګړی ته وکتل.

د ماسپښين د لمانځه وخت نږدې و.

هغه په کور کې اودس وکړ او جومات ته روان شو.

د دوی د جومات ملا امام کتاب خان نومېده او په دې ورځ هغه چېرته تللی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موذن اذان وکړ.

بیا جمع د کلي یوه مشر ورکړه.

هغه الته تر ماښامه پاتې او په هغه ورځ ملا امام رانه غی.

د ماښام د لمانځه نه وروسته، خپل کور ته روان شو.

کور ته د ننه شو.

او د ځپرې لاندې پر تغره کېناست.

ماښام د ډوډۍ خوړو نه وروسته یې د ماسخوتن (ماسختن) لمونځ ادا او په سوچ، سوچ کې بیده شو.

څه ځنډ وروسته ویښ او خپل څادر یې پر ځان کش او بېرته بیده شو.

سهار وختي د تل په شان له خوبه پاڅېد، اودس یې وکړ او نور یې هم د لمانځه له پاره پاڅول.

بیا جومات ته لاړ.

سترګې یې پر ملا امام و لګېدې کوم چې پرون نه و، او چېرته تللی و.

د لمانځه وخت نږدې و.

هغه لمونځ په جمع ادا کړل.

خلکو، په وتلو پیل کړ.

تقوا اکا پر خپل ځای کېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا امام ورته و ویل:

ته لکه چې نن کور ته، نه ځې؟

پخوا به د ټولو نه مخکې د جومات نه وتې.

تقوا اکا په خندا شو او ویې ویل:

نن مې له تا سره څه کار دی.

ملا امام و ویل:

مهرباني وکړه!

څه کولای شم.

هغه خپل جب ته لاس او عریضه یې له جبه راوویسته او هغه ته یې وړاندې کړه.

ملا امام عریضه په ځیر سره و کته او هغه ته یې و ویل:

یوازې لاسلیک (دست خط ) یې کړم او که ټاپې ته یې هم اړتیا شته.

تقوا اکا و ویل:

ته یې لاسیک بیا به زه د کلي مشر لاسیک واخلم او د ماسپښین له لمانځه نه وروسته به یې تا ته راوړم چې ټاپه پرې هم ولګوې.

ملا امام و ویل :

سمه ده!

عریضه یې پر ځمکې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلم (قلم) یې د جبه و وېست او پر عریضې یې لاسلیک کړ.

بیا یې عریضه بېرته تقوا اکا ته ورکړه او ویې ویل.

دا دی، ما خو د ستا د لاربنوونې نه سره سم لاسلیک کړه.

ته د کلي مشر لاسلیک هم واخله.

د ماسپښین د لمانځه نه وروسته یې ما ته راوړه، تر څو پرې ټاپه هم ولږووم.

بیا یې د خپل کلم (قلم) سر پوښ بند او کلم (قلم) یې بېرته جب کې کېښود.

تقوا اکا د ملا امام نه مننه وکړه.

عریضه یې بېرته جب کې کېښوده.

له ځایه پاڅېد.

د ملا امام سره یې خدای پاماني وکړه.

لمړی د جومات نه و وت او بیا کور ته روان شو.

په کور کې شین چای و څښه.

خپل کور نه و وت او د کلی مشر کور ته روان شو.

دکلي مشر کور ته ورسېد او دروازه یې و ټکوه.

د هغه زوی دروازې ته نږدې او خلاصه کړه.

بیا یې تقوا اکا ته سلام واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقوا اکا هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل:

الک و ویل:

راځه!

کور ته د ننه شه!

چای و څښنه!

تقوا اکا و پوښتل:

پلار دې په کور کې دی؟

الک و ویل:

هو!

پلار مې په کور کې دی.

څه دې ویل؟

هغه و ویل:

هو!

الک و ویل:

راځه !

وجرې (حجرې) ته ننوځه.

تقوا اکا اوجرې ته د ننه شو او الته څوک نه په سترګو کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الک و ویل:

تقوا اکا!

دلته پر توشکې کښېنه او بالښت دې تر څټ کېږده.

زه به لاړ شم، پلار ته به مې غږ او د چای فرمايښت به هم ورکړم.

تقوا اکا و ویل سمه ده!

خو !

چای مې همدا اوس و ښنه.

مننه!

یواځې پلار ته دې غږ کړه.

هغه و ویل:

سمه ده!

تقوا اکا پر توشکې کېناست او بالښت یې څټ (شا) ته کېښود.

څنډ وروسته د الک پلار، راغی.

تقوا اکا له ځایه پاڅېد او د کلي مشر سره یې روغبړ وکړ.

د کلي مشر ورته و ویل:

کښېنه!

تقوا اکا مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





بیا یې د تقوا اکا نه پوښتنه وکړه:

ډېر وخت خو دېخوا نه راتلې؟

خیریت خو به وي؟

تقوا اکا و ویل:

پو هېږې چې زه کاریګر او تل په کارونو پسې ورک یم.

لږ وخت اوزګار، کېږم.

بیا د کلی مشر خپل زوی ته غږ کړ!

زوی یې راغی او پلار ته یې و ویل:

څه دې ویل پلاره؟

هغه و ویل:

تقوا اکا ته شین چای راوړه.

تقوا اکا و ویل:

مننه کوم.

وراره، و ویل:

مګر ما په کور کې چای، څښلی دی.

او س مې زړه ته نه کېږي.

بیا د کلي مشر د تقوا اکا نه پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند څنګه اوړي (تېرېږي)؟

تقوا اکا و ویل:

ښه نه تېرېږي.

تاسو پوهېږي چې زما هټۍ او ټکټر(تراکتور) سېلاب یووړ.

کور کې اوبه ډنډې شوې.

د کور کالي او لوښي له مینځه لاړل.

یواځې یوه خیمه مو، تر لاسه کړې او د موسساتو تیاره او بې خونده ډوډۍ خورو.

د کلي مشر و ویل:

کومې نورې مرستې دې نه دي تر لاسه کړي؟

تقوا اکا و ویل:

**نه!**

بیا د کلی مشر و ویل:

ګناه ستا ده.

تر اوسه دې اقدام نه دی کړی؛

تقوا اکا و ویل:

ما عریضه وکړه او ډېر یې سرګردانه کړم.

بیا یې عریضه د جب نه و باسه او د کلي مشر ته یې وړاندې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلي مشر عریضه واخیسته او ویې لوسته.

وروسته یې کلم (قلم) د جب نه و ویست او پر عریضې یې لاسلیک کړ.

بیا یې عریضه بېرته تقوا اکا ته ورکړه او ویې ویل:

دا دی، ما لاسلیک کړه.

ته یې بېرته ملا امام ته یوسه چې پر هغه ټاپه ولګوي.

تقوا اکا د کلي مشر نه مننه وکړه.

بیا له ځایه پاڅېد او ویې ویل:

سمه ده!

زه به اوس بېرته جومات ته لاړ او ملا امام ته به و وایم چې د دواړو لاسلیکونو لاندې ټاپه ولګوي.

بیا د کلي مشر و ویل:

سمه ده!

کولای شې لاړ شې.

د شپې ډوډۍ او چای به، له ما سره وخورې!

تقوا اکا و ویل:

مننه کوم.

بیا کوم بل وخت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په سوچونو کې ډوب یم.

د کلي مشر و ویل:

سمه ده !

دا دې، خپل کور دی.

هر کله راتلی شئ.

تقوا اکا مننه وکړه او د اوجرې نه د کلي مشر سره یوځای و وت.

تقوا اکا جومات خوا ته روان شو او د کلي مشر بېرته کور ته ننوت.

هغه جومات ته لاړ.

ملا امام د جومات په انګړ کې د دېوال سیوري ته، ناست و.

تقوا اکا هغه ته نږدې او سلام یې ورکړ.

ملا امام هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا ملا امام د تقوا اکا نه، پوښتنه وکړه:

د کلي مشر لاسلیک دې، واخیست.

تقوا اکا و ویل:

هو!

وا مې خیست.

بیا یې جب ته لاس او عریضه یې ملا امام ته ورکړه او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دی!

د دواړو لاسلیک نه لاندې ټاپه ولګوه.

ملا امام و ویل:

سمه ده!

ملا امام د ځایه، پاڅېد او تقوا اکا ته یې و ویل:

ته دلته کېنه!

زه اوجرې ته ځم او ټاپه راوړم.

تقوا اکا و ویل:

سمه ده!

ملا اوجرې (حجرې) ته د ننه شو او لږ ځنډ وروسته یې ټاپه راوړه او بېرته په خپل ځای کېناست.

د ټاپې کوتۍ (قطۍ) سر یې خلاص او ویې کتل چې وچه ده.

د خپلې خوا نه یې چایجوش واخیست.

د چایجوش سر یې خلاص او ویې لیدل چې لږ چای په کې شته.

بیا یې د چایجوش سر، بېرته بند کړ.

چایجوش د لاستي نه یې و نیو او مشوکه (نوله) یې د ټاپې کوتۍ (قطۍ) ته کښته او لږ چای یې په کې واچوه.

بیا یې چایجوش بېرته پر خپل ځای کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاپه يې د پلاستيکي کڅوړې نه را و وېسته او د ټاپې په کوټۍ (قطۍ) يې و سولوله.

بيا يې و کتل چې رنګ يې اخيستی دی، که نه؟

ټاپې رنګ اخيستی و.

بيا يې عريضه پر خمکې کېښوده او په مناسب ځای يې ټاپه ولګوله.

وروسته يې تقوا اکا ته و ويل:

دا دې، هم ټاپه.

تقوا اکا د ملا امام نه مننه وکړه او هغه ته يې د روغ صحت او اوږد عمر دوعا، وکړه.

تقوا اکا، څو دکيکې (دقيقې) عريضه پر ځمکې کېښوده تر څو کاغذ ، وچ شي.

وروسته يې عريضه واخيسته.

هغه يې د پخوا په شان کاته (قاته) کړه او په جب کې يې کېښوده.

بيا له ځايه پاڅېد.

ملا امام نه يې مننه وکړه، د جومات انګړ نه و وت او کور ته روان شو.

د تقوا اکا ډېره ولګېده او خوشحاله شو.

په خوشحالۍ سره کور ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې د کورنۍ پر غړو، غږ کړ.

دا دی، اوس پایلې ته نږدې شوم.

د کلي مشر او د ملا امام لاسلیک مې واخیست او ملا صیب دې خیر وېسی، ټاپه یې هم کړ.

د دې خبرو په اورېدو سره د کورنۍ ټول غړي، خوشحاله شوو.

تقوا اکا  خپرې ته نږدې شو او الته، سیوري ته کېناست.

سوچ یې پیل کړ.

پرېکړه یې وکړه تر څو سهار وختي، ولسوالۍ ته لاړ او د شورا د مشر لاسلیک او ټاپه هم واخلي او بیا یې ولسوال ته وړاندې کړي.

څه وخت تېر او شپه شوه.

د شپې ډوډۍ او د ماسخوتن له لمانځه نه وروسته په خوشحالۍ سره بیده شو.

سهار وختی له خوبه پاڅېد.

اودس نه وروسته جومات ته لاړ، لمانځه نه وروسته بېرته کور ته راغی، چای یې و څښه، بیا ولسوالۍ ته لاړ.

پوره یوه اونۍ یې د شورا مشر په سې تېره کړه.

کله به د هغه کور ته ورته.

مګر په لاس به، نه ورته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................

یوه ورځ یې پرېکړه وکړه تر څو د هغه کور ته لاړ او تر ماښامه یې، انتظار وکړي؛

تقوا اکا د هغه کور ته ورسېد.

دروازه یې وټکوه.

دروازې ته د هغه ورور راغی.

تقوا اکا هغه ته سلام ورکړ.

د هغه ورور، د تقوا اکا سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې تقوا اکا ته، د کور د ننوتو بلنه ورکړه.

تقوا اکا و ویل:

مننه کوم.

د شورا مشر په کور کې شتون لري؟

هغه و ویل:

نه!

هغه یوه ګړۍ مخکې یوې جنازې ته لاړ.

تقوا اکا و پوښتل:

څه وخت، بېرته راځي؟

هغه و ویل:

څه نه شم ویلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به ورته زنګ و وهم او پوښتنه به یې وکړم.

ورور یې هغه ته زنګ و واهه.

اړیکې ټینګې شوې.

بیا، ورور یې و پوښتل:

څه وخت بېرته راځې؟

د شورا مشر ځواب ورکړ.

نه پوهېږم.

بیا یې و پوښتل:

خیریت خو به وي؟

ورور یې و ویل:

خیریت دی.

یوه کس د ستا پوشتنه وکړه او عریضه لري، چې ته یې ورته تصدیق کړې.

هغه و ویل:

سمه ده!

ورته و وایه کومه بله ورځ راشه.

بیا یې ټېلفون بند کړ.

تقوا اکا ته یې، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل چې:

د راتګ وخت مې، څرګند نه دی.

کس ته و وایه!

بله ورځ راشي.

تقوا اکا د هغه نه مننه وکړه او د دروازې نه لړ، لرې شو.

بیا یې د شورا مشر د ورور نه خدای پاماني واخیسته او روان شو.

له ځانه سره یې سوچ وکړ دا چې:

که زه کورته لاړ شم، سبا به بیا کومه ستونزه منځ ته راشي او د شورا مشر به مې ګوتو ته رانه، شي.

ښه به دا وي چې هغه ته انتظار وکړم، تر څو یې و موم.

هغه د جومات خوا ته روان او د ننه شو.

د جومات په انګړ کې سیوري ته یې ځان برابر کړ.

خپل څادر یې پر ځمکه و غوړاوه او پرې کښېناست.

غرمه شوه.

بیا ماسپښین شو.

د ماسپښین لمونځ له پاره، څه کسان راټول شوو.

د یوه سپین ږیري پرې پام او هغه ته ور نږدې شو.

لمړی یې تقوا اکا ته ستړی مه شې، و ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې هغه ته و ويل:

زه خو تا نه پېژنم.

ته مسافر يې؟

تقوا اکا و ويل:

هو!

زه مسافر يم.

بيا سپين ږيري و ويل:

د چا سره دې کار دی؟

تقوا اکا و ويل:

يوه د مرستې عريضه مې درلوده، غوښتل مې چې د شورا مشر لاسيک او ټاپه پرې واخلم.

سپين ږيري و ويل:

سمه ده!

ډوډۍ به دې هم نه وي خوړلې؟

تقوا اکا و ويل:

هو!

همداسې، ده.

بيا يې تقوا اکا ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به اودس او لمونځ وکړو، وروسته به تا ته، ډوډۍ در ولېږم.

تقوا اکا د هغه نه مننه وکړه او اوداسه ته روان شو.

لمونځ یې په جمع ادا کړ.

بیا پخواني ځای ته لاړ او پر ځادر کېناست.

څو دکیکې (دقیقې) تېرې شوې.

سپین ږیري د وعدې سره سم، څه خواړه هغه ته راوړل.

بیا یې و ویل:

څه تیار – هغه د یار.

تقوا اکا د هغه نه مننه وکړه او پر خوړو یې پیل کړ.

بیا بل کس هغه ته چای هم راوړ.

تقوا اکا چای وڅښه او د سیمې خلکو ته یې دوعا وکړه.

هغه بیا د شورا مشر کورته لاړ او د کور د مخه، ماشومانو نه یې د شورا مشر پوښتنه وکړه او و یې ویل:

د شورا مشر کورته راغلی دی؟

یوه ماشوم و ویل:

لږ صبر وکړه!

زه به د هغه کور ته لاړ شم او پوښتنه به یې وکړم.

تقوا اکا د ونې سیوري ته، ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم هم په منډو د شورا مشر کور ته ننوت.

لږ ځنډ وروسته هغه بېرته، راستون شو.

تقوا اکا ته يې و ويل:

نه!

تر اوسه نه دی، راغلی.

د دې خبرې په اورېدو سره تقوا اکا ډېر خواشينی شو.

هغه بېرته جومات خوا ته روان شو او الته پر نږدې ډبرې ځادر کېښود او پرې کښېناست.

مازيگر شو، بيا ماښام.

تقوا اکا به د هر لمونځ د ادا کولو نه وروسته، د هغه کور ته، ورته او پوښتنه به يې کوه.

ماسخوتن شو او د شورا د مشر کوم څرک (درک) معلوم نه شو.

تقوا اکا شپه، په جومات کې تېره کړه.

خلکو هغه ته د شپې ډوډۍ او چای راوړ.

تقوا اکا الته، شپه وکړه.

سهار شو.

بيا يې اودس او د سهار لمونځ په جمع ادا کړ.

خلکو د سهار چای هم، هغه ته راوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تقوا اکا د شورا مشر دېرې (باغچې) ته لاړ او الته په انتظار شو.

د ورځې لس بجې شوې.

تقوا اکا په سوچ کې ډوب او سر یې پر زنګنو ایښی و.

په دې وخت کې، یوه ماشومه هغه ته نږدې شوه.

هغې و ویل:

تقوا اکا!

د شورا مشر راغی.

تقوا اکا، ټکان وخوړ، سر یې راپورته کړ.

بیا یې نجلۍ ته و ویل:

ریښتیا وایې؟

نجلۍ، و ویل:

هو!

بیا له ځایه پورته او څادر یې وڅانډه.

لمړی یې د نجلۍ نه مننه وکړه او بیا د شورا مشر کور خوا ته روان شو.

دروازې ته نږدې او هغه یې وټکوه.

دروازی ته یوه ماشومه نجلی راغله او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک او د چا سره دې، کار دی؟

تقوا اکا و ویل:

زما نوم تقوا او شورا مشر سره مې کار دی.

هغې و ویل:

سمه ده!

ته دلته لږ انتظار وکړه، زه به هغه ته ، و وایم.

جلۍ بېرته دروازه بنده او انګړ ته لاړه.

څو دکیکې (دقیقې) وروسته د شورا مشر دروازې ته راغی.

تقوا اکا د هغه سره روغبړ وکړ.

بیا د شورا مشر ور نه پوښتنه وکړه:

خیریت خو به وي؟

تقوا اکا و ویل:

هو!

خیریت دی.

په یاد دې راغی چی ما اوتا سره په ولسوالۍ کې لیدلي وو.

هغه و ویل:

زه د ورځې د لسګونو، کسانو سره ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد مې، نه دی.

بیا تقوا اکا و ویل:

دا عریضه وګوره!

ستا په لاربښونه مې د کلي مشر او ملا امام لاسلیک او ټاپه اخیستی.
اوس د ستاسو د لاسیک او ټاپې په هکله دلته، راغلی یم.

هغه عریضه واخیسته او ویې لوسته.

بیا یې تقوا اکا ته و ویل:

سمه ده!

راځه کور ته لاړ شو.

تقوا اکا و ویل:

مننه کوم.

تاسو کورته لاړ پر دې عریضې لاسلیک او ټاپه ولګوئ.

زه به د دېرې (باغچې) خوا ته لاړ، شم.

تاسو کولای شئ چې عریضه د کوم ماشوم په لاس راولېږئ.

د شورا مشر و ویل:

سمه ده!

بیا هغه کور ته د ننه شو.

تقوا اکا هم دېرې (باغچي) خوا ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دکیکې( دقیقې) یې د ونو او ګلانو ننداره وکړه.

بیا یې ولید چې یوه ماشومه نجلۍ، دېرې خوا ته روانه ده.

د هغې په لاس یې کاغذ ولید.

ډېر خوشحاله شو.

نجلۍ هغه ته نږدې او سلام یې ورکړ.

تقوا اکا هم د هغې سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې خپله عریضه ترې واخیسته، ویې لیده چې د شورا د مشر لاسیک او ټاپه پرې شتون لری.

عریضه یې ببرته د پخوا په شان کاته (قاته) او د واسکټ په جب کې یې کېښوده.

بیا د هغه ځای نه یې د ولسوالي خوا ته روان شو.

ګړۍ وروسته ولسولۍ بازار او بیا وروسته ولسوالۍ ودانۍ ته ورسېد.

د ولسوالۍ دروازه کې امنیتي کسانو ترې پوښتنه وکړه:

چېرته او د چا سره دې کار دی؟

تقوا اکا و ویل:

مرستو د لاس ته راوړو په هکله، یوه عریضه لرم او غواړم چې ولسوال صیب ته یې وړاندې کړم.

امنیتي کسانو و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

خو!

ولسوال صیب، نن ولایت ته تللی دی.

تقوا اکا و ویل:

سمه ده!

زه به د ننه لاړ او الته به انتظار وکړم.

امنیتی کسانو و ویل:

اوس خو رسمیات ختم دي.

ته سبا، راشه.

تقوا اکا کوښښ کوه چې ولسوالۍ ته ننوځي او الته انتظار وکړي.

مگر امنیتي کسانو هغه ته، د ننوتو اجازه ور نه کړه.

بیا یې ځادر په سر واچوه او کور خوا ته روان شو.

هغه ځوگړۍ وروسته، خپل کور ته ورسېد.

ډېر ستړی او ستومانه و.

لمړی یې د چای فرمایښت ورکړ.

بیا یې د کورنۍ غړو سره تېره شوې کیسه گډه (شریکه) کړه.

چای دم او هغه یې په خوند سره وڅښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابښام، بيا ورسته شپه شوه.

تقوا اکا لمنځونه هم په سختۍ سره وکړل او بیده شو.

سهار وختي له کوره ولسوالۍ خوا ته روان شو.

هوا، توده وه.

هغه خپل څادر د اوږې نه واخيست او پر سر يې واچاوه.

خوشحاله ځرګندېده.

څوګړې وروسته، هغه ولسوالۍ ته ورسېد.

تلاشۍ نه وروسته ولسوالۍ انګړ ته ننوت.

بیا د ولسوال کوټې ته نږدې شو.

الته د هغه نه اداري مدير پوښتنه وکړه:

د چا سره دې کار دی؟

تقوا اکا و ويل:

د ولسوال صيب سره مې کار دی.

مدير و ويل:

کار دې څه دی؟

تقوا اکا و ويل:

يوه عريضه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیر و ویل:

عریضه دې ماته راکړه او ځواب یې سبا، تر لاسه کړه.

تقوا اکا و ویل:

د دې عریضې په هکله ډېر سرګردانه شوی، یم.

غوړام چې هغه و وینم او عریضه د خپل په لاس، هغه ته وړاندې کړم.

بیا مدیر و ویل:

دلته نوبت دی.

چېرې کښېنه!

کوم وخت چې ستا نوبت ورسېد، زه به درته غږ کړم.

تقوا اکا ومنه.

هغه مدیر ته و ویل:

دلته ګڼه ګونه ده.

زه د باندې، د ونې تر سیورې لاندې کښېنم.

کوم وخت چې زما وار (نوبت) ورسېد، ماته غږ کړه.

مدیر و ویل:

سمه ده!

غرمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د ماسپښین د لمانځه آذان وشو.

تقوا اکا لمړی اودس او بیا یې لمونځ وکړ.

لمانځه نه وروسته، بیا مدیر ته لاړ او د وار(نوبت) پوښتنه یې وکړ.

مدیر لږ په غصه شو او ویې ویل:

تر اوسه چېرې ورک وې.

ما خو پلا (ځله) ستا نوم واخیست.

ته نه وې.

تقوا اکا و ویل:

ما خو درته و ویل چې دلته ګڼه ګونه ده، زه د باندې تر ونې لاندې انتظار کوم.

بیا مدیر و ویل:

سمه ده!

دلته کښېنه.

زما له هېره وتلی و.

دلته هره ورځ ګڼه ،ګونه وي.

د بلې خوا سوچونه (فکرونه) هم خراب دي.

څه وخت تېر شو.

بیا مدیر په تقوا اکا غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ده!

عریضه دې واخله او ولسوال صیب ته یې وړاندې کړه.

تقوا اکا خپله عریضه واخیسته او د ولسوال دفتر ته، د ننه شو.

لمړی یې سلام ورکړ.

ولسوال هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل:

بیا یې ورته و ویل:

دلته نږدې پر څوکۍ کښېنه!

تقوا اکا پر څوکۍ کښېناست.

بیا و لسوال و ویل:

څه غواړې؟

هغه د مرستې عریضه وړاندې کړه.

ولسوال عریضه ولوسته او هغه ته یې و ویل:

اوس خو مونږ د مرستو له پاره څه نه لرو.

عریضه دې واخله او له ځانه سره دې وساته.

کوم وخت چې مرستې راغلې، تا او نورو مستحقو کسانو باندې به یې و وېشو.

تقوا اکا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې عریضې د سر ته رسولو په هکله مې ډېرې منډې وهلي او د ستونځو سره مخ شوی یم.

څرنګه، پوی شم چې، مرستې راغلي دي.

ولسوال و ویل:

کولای شئ، د کلي مشر او یا هم د کلي شورا مشر نه پوښتنه وکړې.

تقوا اکا و ویل:

ښه به وي چې پر دې عریضې تاسو هم لاسلیک وکړئ.

هغه و ویل:

سمه ده!

پر عریضې یې لاسلیک وکړ.

بیا یې مدیر ته غږ او و ویل:

زما تر لاسلیک لاندې ټاپه کړه.

بیا یې په کتاب کې ثبت او پر عریضې یې لمبر(نمبر، شمېره) هم ولیکه.

مدیر، تقوا اکا ته و ویل:

راځه!

پاتې کار به یې زما په دفتر کې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دواړه د ولسوال له دفتر نه و وتل او د مدير کوټې (خونې، دفتر) ته لاړل.

مدير پر خپلې څوکۍ کښېناست او عريضه يې پر مېز کېښوده.

د ثبت کتاب يې خلاص او عريضه يې ثبته کړه.

بيا يې د ثبت شمېره پر عريضې وليکه.

کتاب يې بېرته الماری کې کېښود او د الماری دروازه يې بنده کړه.

بيا يې د تقوا اکا عريضه بېرته ورکړه او هغه ته يې و ويل:

عريضه دې واخله او د باندې ترې دوې کاپۍ واخله او ژر بېرته راشه چې د کار وخت پای ته رسېږي.

تقوا اکا عريضه واخيسته او په منډو له ولسوالۍ نه و وت.

د يوې فوټوکاپۍ غرفې ته ودرېد او هغه ته يې و ويل:

د دې عريضې نه دوې کاپۍ و باسه!

کس و ويل:

رنګه، که تور اوسپين،

تقوا اکا و ويل:

زه بې وسه يم.

په سېلاب کې مې هر څه د لاسه ورکړي دي.

تور اوسپين، سم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس د عريضې نه دوې کاپۍ وباسې او تقوا اکا ته يې ورکړې.

بيا تقوا اکا جب ته لاس کړ چې څه پيسې وباسي او کس ته يې ورکړي.

هر څه جبونه يې ولټول خو څه يې پيدا نه کړ.

کس و ويل:

ستونزه نه شته.

کوم بل وخت چې راغلې، بيا شل افغانۍ راکړه.

بيا تقوا اکا د هغه نه مننه وکړه، عريضه او کاپۍ يې واخيستې او په منډو بېرته ولسوالۍ ودانۍ ته ننوت.

عريضه او کاپۍ يې مدير ته ورکړې.

بيا مدير يوه کاپي په يوې او بله په بلې دوسې کې کېښودې.

بيا يې هغه ته و ويل:

دا دی!

اصلي عريضه دې واخله او د مرستو د وېشلو په ورځ يې له ځانه سره راوړه.

هغه د مدير نه مننه وکړه، د ولسوالۍ ودانۍ نه و وت او کور ته لاړ.

تقوا اکا به د پوښتنې له پاره په اونۍ کې ،يوه ځل ولسوالۍ ته، ته او هم به يې د کلي مشر او د شورا له مشر نه به يې د مرستو په هکله پوښتنې کوې.

کال تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقوا اکا د ځه نورو بې وزلو کسانو سره د مرستو په تمه دی، او تر ننه یې هېڅ مرستې نه دې تر لاسه کړي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایې
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپېنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینېرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
۶۰. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
۶۱. دخاخکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٢. لیونی لېوه
٣. د خاورو لاندې ښار
٤. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٥. سپین کارغه
٦. سور تنور
٧. خړه بیزو
٨. بندي مرغه
٩. توده برستن
١٠. بې وخته باران
١١. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Scary flood

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: September - October /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**